# د کمیسون په علني غونډو کي. د سیاسي ګوندونو، رسنیو، ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو د استازو د ګډون لایحه.

## اساس

لومړی ماده:

دغه لایحه د ټاکنو د قانون د(۱۰۸) مادي دحکم په اساس، او د همدې قانون د ۲۰ مادې په (۳) فقره کي د درج حکم په نظر کي نیولو سره د ټاکنو د خپلواک کمیسون(کمیسون) لخوا وضعه شویده.

## موخه

دوهمه ماده:

دغه لایحه د کمیسون په علني غونډو کي، د باورلیک لرونکو سیاسي ګوندونو، ټاکنو پوري اړوند مدني ټولنو، ټولیزو رسنیو، د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو د استازو، د ګډون څرنګوالی، تنظیموي.

## د کمیسون ښکاره(علني) غونډې

دریمه ماده:

(۱) کمیسون د ټاکنیز تقویم ټاکلو، د نوماندانو د اسنادو او واکونو د څیړني، د نوم لیکني او رایه اچوني د مراکزو او محلونو د تعداد تصدیقول او ټاکلو، د رایه ورکونکو د لړلیک ترتیبول، د ټاکنیزو حوزو ټاکل، د ټاکنیزو حساسو موادو خپرول او چاپ، د رایې شمیرني او د پایلو اعلانولو په موارداو کي علني غونډې جوړوي.

(۲) د باورلیک د لرلو په صورت کي د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو، ټولیزو رسنیو، د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو استازي کولای شي چي د کمیسون په غونډو کي ګډون وکړي.

## د کمیسون د علني غونډو وخت او ځای

څلورمه ماده:

(۱) دکمیسون علني غونډې په داسي ځای کي جوړیږي، چي د سیاسي ګوندونو د، مدني ټولنو، ټولیزو رسنیو، او د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو د استازو د حضور لپاره مساعده فضاء ولري.

(۲) کمیسون د علني غونډې د موضوع، نیټې، او وخت په هلکه د غونډې له جوړیدو څخه کم تر کمه ۲۴ ساعته مخکي، د دغې لایحې د دریمې مادې په (۲) فقره کي مندرجو بنسټونو ته خبر ورکوي.

(۳) د اړیکو آمریت د کمیسون له علني غونډو سره د اړونده بنسټونو د همغږه کولو مسؤلیت پر غاړه لري.

## د ګډون څرنګوالی

پنځمه ماده:

(۱) باورلیک لرونکي بنسټونه کولای شي، د ټاکنو په قانون کي د مندرجو حقوقو او مکلفیتونو په نظر کي نیولو، او د څارونکو او کتونکو د ژمن لیک په رعایتولو سره، د کمیسون په علني غونډو کي ګډون وکړي.

(۲) د باورلیک لرونکو بنسټونو رئیس او یا یې یو تن استازی چي پخوا لا له کمیسون سره د څارونکو او کتونکو په حیث ثبت شوی، د کمیسون په علني غونډو کي د ګډون په منظور، د نوم، تخلص، د باورلیک د کارت/ د پیژندګلوي د کارت د شمیرو او د تلیفون نمبر په ورکولو سره کمیسون ته ور پیژندل کیږي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(۳) په هغه صورت کې چې د څارونکو او نړیوالو کتونکو بنسټونو استازي په ملي ژبو ونه پوهیږي، کولای شي چې خپل یو تن ژباړونکي هم کمیسیون ته ور وپیژني.

(۴) په علني غونډو کې ګډون کوونکي کسان باید، د کمیسیون لخوا ورکول شوی د پیژندګلوي کارت له ځان سره ولري.

(۵) هر کله که د څارونکو او کتونکو زیات کسان په علني غونډو کې حاضر وي، کمیسیون د نظم ساتنې او ټولو څارنکو او کتونکو ته د څارنې او کتنې د یو شان زمینې برابرولو په منظور، په غونډو کې د هغوی د حضور لپاره مهالویش جوړوي، او له هغه سره سم عمل کوي.

(۶) څارونکي او کتونکي د کمیسون په چارو کې مداخله نه کوي.

## د کمیسون په علني غونډو کې نیول شوی تصمیم

شپږمه ماده:

(۱) اړونده برخه د علني غونډې مربوط اسناد ترتیبوي، او د کمیسون علني غونډې ته یې وړاندې کوي.

(۲) کمیسون ترتیب شوي اسناد د قانون د احکامو، اړونده لایحو او طرزالعملونو په نظر کې نیولو سره په علني ډول څیړي او تصمیم نیسي.

(۳) په غونډه کې حاضر څارونکي او کتونکي، کولای شي د غونډې له پای ته رسیدو سره سم، د بحث وړ موضوعاتو په هکله وضاحت وغواړي.

## د څارونکي او کتونکي حقوق او مکلفیتونه

اوومه ماده:

(۱) څارونکي او کتونکي د لاندې حقوقو لرونکي دي:

۱.د کمیسون په علني غونډو کې ګډون.

۲.د کمیسون د طرزالعمل مطابق معلوماتو ته لاس رسی.

۳.د څارونکي لخوا اړوند مرجع ته د شکایت کولو حق.

۴.د علني غونډې له بهیر څخه د راپور جوړول.

(۲) څارونکي او کتونکي د لاندې مکلفیتونو لرونکي دي:

۱. د قانون د احکامو، او د کمیسون د لایحو او طرزالعملونو رعایت.

۲. د څارونکو او کتونکو د ژمن لیک رعایت.

۳. د کمیسون په چارو کې مداخله نه کول.

۴. د کمیسون په محوطه کې د وضع شویو امنیتي چارو رعایت.

(۳) د دې مادې د (۲) فقرې د احکامو د نه رعایت په صورت کې، کمیسون کولای شي سرغړونکي، په غونډه کې له ګډون څخه محروم کړي.

## له قوانینو سره مطابقت

اتمه ماده:

د دې لایحې هیڅ حکم، د نافذه قوانینو له احکامو سره په مغایرت کې تفسیر او تعبیرېدای نه شي. د مغایرت په صورت کې د اړونده قوانینو احکام د اجراء وړ دي.

## انفاذ

نهمه ماده:

دغه لایحه د تصویب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.